پهٔ 16 جولائي، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 01 صفر شریف، کال 1448ھ) د پاکستان
پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# د صُلح حُدَيبِيَه نه دوه سبقونه

﴿د کامیابۍ په لاره کښې د حکمت او تدبیر اهمیت او د بدفالۍ د غندني بیان﴾

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړې...

- ✿... د صلح حُدَيبِيَه د حِکمت او تدبیر بې مثاله واقعه
- ✿... ښهٔ تدبیر اختیاروئ!
- ✿... د کامیابۍ 2 شرطونه
- ✿... د کرشمو انتظار مهٔ کوئ!

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه : بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د آخري نبي، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې په ما باندې 100 ځله درود شریف اولولي، اللّٰه پاک د هغهٔ د دواړو سترګو تر مینځه ولیکي چې دا د نفاق نه او د دوزخ د وور نه آزاد دے او هغه به د قیامت په ورځ د شهیدانو سره ساتي-[1]

حکمِ خُدا بھی، دِل کی صَدا بھی درود ہے | روحانیت کی اَصل غِذا بھی درود ہے
ہاں ہاں اندھیری قبر کی ہے روشنی درود | محشر میں عافیت کی رِدا بھی درود ہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے-[2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښه ښه نِیَّتونه اوکړو: مَثَلاً ❁ د اللّٰه پاک د رضا د پاره

---

[1] ...معجم اوسط، جلد:5، صفحه:252، حدیث:7235۔

[2] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

به تهول بيان اورم ❁ پۀ اَدب به كښېنم ❁ ښه پۀ توجُّه به بيان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل كولو او نورو ته د رَسولو كوشش كووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** صُلح حُدَيبِيَه د اِسلامي تاريخ هُغه عظيمه واقعه ده، د كومې پۀ وجه چې اِسلام دومره ترقي اوكړه چې د دې نه مخكښې يې چرې هم نۀ وه كړې- پۀ اِسلامي تاريخ كښې دا يوه نا اشنا او ډېره اهمه فېصله وه، د دې صُلح ظاهري حالت ښودله چې مسلمانانو ماتې خوړلې ده، خو محبوبِ ذِيشان، مكي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې صُلح پسې شا ته پټ رازونه ليدل- دا صُلح د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حِكمت، پوهې او د چارو د غوره تدبير يو شاهكار دے- راځئ چې د دې صُلح مختصر تفصيل او د دې نه مېلاوېدونكي سبقونه واورو:

## د صُلح حُدَيبِيَه د حِكمت او د تدبير بے مثاله واقعه

د كال 6 هجرى واقعه ده، خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د 1400 صحابۀ كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم سره د عمرې اِحرام وتړلو او د مكے مكرمې طرف ته روان شو- كله چې **حُدَيبِيَه** نومې ځائے راورسيدو نو ناڅاپه د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مباركه اوښه **قَصوا** كېناسته، صحابۀ كرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم پرېشانه شول چې نن قَصوا د عادت خِلاف داسې ولې كېناسته- رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل:

مَا خَلَاَتِ الْقَصْوَاءُ، وَمَا ذَاكَ لَهَا بِخُلُقٍ، وَلٰكِنْ حَبَسَهَا حَابِسُ الْفِيْلِ

**ترجمه:** قَصوا د ضد نه نۀ ده ناسته، نۀ د دې دا عادت دے بلكې دا هُغه (رَبِّ كريم) ودرولې ده، كوم چې هاتيان (يعني د اَبرَهَه فوځ) ودرولے وو- (1)

1...بخارى، كتاب الشروط، باب الشروط فى الجهاد...الخ، صفحه:705، حديث:2732-

یعنې د قَصوا اوښې داسې د معمول خلاف کېناستل خُدائي اِشاره وه چې دا مبارکه قافله د مکے طرف ته لاړه نهٔ شي بلکې هم دلته پهٔ **حُدَیبِیَه** کښې اِیساره شي۔

دلته دا د مسلمانانو قافله پهٔ **حُدَیبِیَه** کښې اِیساره شوه، هلته د مکے کافرانو وګڼله چې شاید مسلمانان د جنګ پهٔ اِراده راغلي دي، نو هغوئي هم د جنګ تیاري شروع کړه۔ خیر! واقعه اوږده ده، زهٔ یـې لږه مختصر کووم، بیا د دواړو اړخونو نه د اَستاذو لیږلو لړی شروع شوه د پاره د دې چې معلومه شي چې غیر مسلمه څهٔ غواړي او مسلمانان څهٔ غواړي، د ټولو نه وړومبے بُدَیل نومې ګس د غیر مسلمو د طرف نه د اَستاذي پهٔ توګه حاضر شو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: د مکے والؤ ته ووایه چې مونږ د جنګ اِراده نهٔ لرو، مونږ خو بس د عمرې د پاره راغلي یو، عمره به اوکړو او واپس به لاړ شو۔

خو غیر مسلمه بد نصیبه پهٔ دې خبره باندې راضي نهٔ شول، هغوئي پهٔ یو حالت کښې هم پهٔ دې حق کښې نهٔ وو چې مسلمانان مکے ته داخِل شي، خیر! د خبرو اترو لړی شروع وه، پهٔ دغه وخت کښې سُهَیل بن عَمرو نومې ګس د غیر مسلمو د طرف نه د اَستاذي پهٔ توګه حاضر شو، کله چې دے **حُدَیبِیَه** ته ورسېدو نو خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: سُهَیل (یعني د اسانۍ والا) راغلے دے اوس به زمونږه معامله اسانه شي۔

سُهَیل چې څنګه راغلو نو وه یـې وئیل: اے مُحَمَّد صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! که چرې تاسو جنګ نهٔ غواړئ، امن غواړئ نو راځئ! مونږ په شریکه شرائط ټاکو۔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ډېر ساعته پورې د سُهَیل سره ناست وو او پهٔ شرطونو باندې یـې خبرې فرمائیلې، اخر د دواړو اړخونو نه شرطونه وټاکلے شول او د امن لوظنامه ولیکلے شوه او پهٔ هغې دستخطونه اوکړے شول۔

پهٔ دې ځائے کښې چې کومه حېرانېدونکې خبره مخې ته راغله هغه دا وه چې پهٔ دې لوظنامه کښې پهٔ مسلمانانو باندې سخت بندېزونه لګولے شوي وو او غیر مسلمه ازاد

پرېښودے شوي وو، مثلاً: پۀ دې کښې يو شرط دا هم وو چې که چرې د مدينے يو کَس مکے ته راشي نو د مکے والا هغه د خپل ځان سره ساتلے شي خو د مکے نه که څوک مسلمان مدينے ته لاړ شي نو مسلمانان هغه د خپل ځان سره نشي ساتلے بلکې واپس به يې مکے ته لېږي۔

دا داسې سخت شرطونه وو چې پۀ ظاهره پرې څوک هم نۀ پوهېدل۔

## حضرت فارُوقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او د جوش اِيماني مظاهره

د دې پورې چې د اُمت د ټولو نه لوئي مُدَبِّر حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دربار رسالت ته حاضر شو او عرض يې اوکړو: اَلَسْتَ نَبِیَّ اللّٰهِ حَقًّا (يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم !) آيا تاسو رښتونے نبي نۀ يئ؟ حضور جانِ کائنات صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: بَلٰی ولې نۀ---؟ (يعني ضرور زۀ رښتونے نبي يم)۔ عرض يې اوکړو: اَلَسْنَا عَلَی الْحَقِّ وَعَدُوُّنَا عَلَی الْبَاطِلِ آيا مونږ پۀ حقه باندې او زمونږه دښمن پۀ باطله باندې نۀ دے---؟ وه يې فرمائيل: بَلٰی ولې نۀ۔ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عرض اوکړو: فَلِمَ نُعْطِی الدَّنِیَّةَ فِی دِیْنِنَا يعني چې دا حال دے نو مونږ پۀ خپل دِين کښې کم تري ولې راولو (يعني مونږ د غير مسلمو داسې سخت شرطونه ولې اومنو؟) خوږ رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَلَسْتُ اُعْصِیْهِ وَهُوَ نَاصِرِیْ يعني اے عمره! زۀ د **الله** رسول يم، زۀ د **الله** پاک نافرماني نۀ کووم، هم هغه زما مددګار دے۔ (1)

يعني پۀ دې صُلح کښې دننه چې کوم راز وو، پۀ ظاهره د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ شان مُدَبِّر هم پۀ هغې نۀ وو پوهه شوے خو دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حِکمت او تدبير او پراخه نظر ډېره اعلیٰ فيصله وه۔ کله چې

---

1...بخاری، کتاب:الشروط، باب:الشروط فی الجهاد، صفحه:707، حدیث:2731-2732۔

دا لوظنامه وشوه نو **الله** پاک د هُغې صُلح په باره کښې وفرمائيل:

اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِیْنًا ۙ﴿۱﴾ (پاره:26، سورۀ فتح:1)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه مونږه ستا د پاره د روښانه فتحې فيصله وفرمائيله۔

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا صُلح کومه چې په ظاهره شکست ګڼلے کيږي، د دې صُلح په پرده کښې ستاسو د پاره روښانه فتح اپښودے شوې ده۔(1)

## د هغوئي چې کوم تدبير دے هغه تقدير دے

سُبْحٰنَ الله! په دې صُلح کښې څهٔ حِکمت وو، دا څهٔ موده پس واضحه کېدل شروع شو، علمائے کرامو ليکلي دي: ❀ مخکښې د مسلمانانو او د کافرانو ترمينځه جنګ وو، څکه به غېر مسلمو ته مسلمانانو ته د نزدې کېدو موقع په لاس نهٔ ورتلله، کله چې دا صُلح وشوه نو غېر مسلمو د مسلمانانو خوا له راتلل شروع کړل، د دوئي طور طريقې، د ژوند آداب يې د نزدې نه ليدل شروع کړل، د قرآنِ کريم آيتونه اورېدل يې شروع کړل، د دې په برکت د هغوئي په زړونو کښې د اِسلام رڼا خورېدل شروع شوه ❀ دغه شان د لرې او نزدې هُغه قبيلې کومې چې د مکے د قريشو د وېرې د وجهې د مسلمانانو نه لرې وې، هغه هم رانزدې کېدل شروع شوې ❀ نور دا چې د دې نه مخکښې به مسلمانان د مکے د کافرانو د خطرې نه نهٔ وزګارېدل، د دې صُلح نه پس دا خطره هم في الحال ختمه شوه، نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رُوم او اِيران وغېره د لرې لرې بادشاهانو په نوم خطونه لېږل شروع کړل، هغوئي له يې د اِسلام دعوت ورکړو۔ غرض دا چې د دې صُلح نه پس د اِسلام رڼا د لرې لرې پورې خورېدل شروع شوه، د دې نتيجه دا راووتله چې صرف درې کاله پس مکه مکرمه هم فتح شوه او د اِسلام رڼا هم خوره شوه۔ علمائے کرامو ليکلي دي چې: په دې درېو کالو کښې دومره خلق مسلمانان شول چې د دې نه مخکښې دومره نهٔ وو

---

1...تفسير در منثور، پاره:26، سورۀ فتح، زيرِ آيت:1، جلد:7، صفحه:509 ملخصاً۔

مسلمان شوي، پهٔ دې درېو کالو کښې اِسلام ته هُغه ترقي او عروج مېلاؤ شو چې د دې نه مخکښې چرې هم نهٔ وو مېلاؤ شوي-(1)

سُبْحٰنَ الله! دا وو د خوږ آقا، رسولِ خُدا، احمدِ مُجتبیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حِکمت او هوښيارتيا او تدبير هُغه شاهکار کوم چې ټول خلق حېران کړل- مولانا حَسَن رضان خان صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

کام جو اُن سے ہُوا، پُورا ہوا | اُن کی جو تدبیر ہے تقدیر ہے (2)

يعني خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د کوم کار طرف ته هم مخ مبارک اړوي نو هغه انجام ته رسي، د نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دا دے چې د کوم کار د پاره چې څهٔ حکمت عملي جوړه کړي، د تقدير قلم هم هُغه اړخ ته تلل شروع کړي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د صُلح حُدَیبِیَه نه مېلاؤېدونکي 2 سبقونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د صُلح حُدَیبِیَه د دې واقعې نه هسې خو ډېر سبقونه د زدکړې د پاره مېلاؤېږي، البته! د خپلې موضوع پهٔ مناسبت سره زهٔ صرف 2 خبرې عرض کووم:

### (1): تعميري کارونو ته توجه اوکړئ!

**د دې نه وړومبے سبق مونږ ته د زدکړې د پاره دا مېلاؤېږي چې که چرې مونږ بدي د جرړې نه نشو ختمولے نو مونږ له پهٔ عارضي توګه د هغې نه پهٔ مخ اړولو، تعميري کارونه شروع کول پکار دي-**

1...سيرتِ مصطفٰی، صفحه:360-

2...ذوقِ نعت، صفحه:224-

تاسو پهٔ دې کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حِکمت او عقلمندۍ ته وګورئ! که د مکے مکرمې د کافرانو سره دا لوظنامه نهٔ وے شوے نو مسلمانان به پهٔ جنګونو کښې مصروفه کېدل، لرې پرتو قبیلو ته به د اِسلام پېغام نهٔ رسېدو، د نورو ملکونو بادشاهانو ته به د خطونو لیږلو موقع نهٔ مېلاؤېده، ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ عارضي توګه د مکے د کافرانو مخې ته د **امن لوظنامې** دېوال ودرولو او خپل حقیقي مشن یـې مخ پهٔ وړاندې بوتللو-

دې ته وئیلے شي: پهٔ اِختلاف باندې مقصد له ترجیح ورکول (یعني ***Mission over Conflict***)-

## د ناکامۍ یوه وجه

دلته داسې کېږي، د ناکامو یوه ډېره لویه وجه دا د کومې طرف ته چې توجه نهٔ کېږي، هغه څهٔ دي؟ خلق پهٔ جنګ جګړو کښې اخته شي او خپل اصلي مقصد پرېږدي ❁ مثلاً: ځینې خلق پهٔ دې خبره باندې کلک ودرېږي چې د خو پورې پهٔ کور کښې فلمونه او ډرامې بندې نهٔ کړې د هغې پورې به پهٔ قلار نهٔ کښېنم، بیا دې د پاره کله د مشر وررور سره جګړه، کله د خور سره بد تمیزي، کله د مور نه خفه کېدل او کله د والد صاحب نه مخ اړول، د دې نتیجه څهٔ وي؟ کور والا د پوهه کېدو پهٔ ځائے اُلټا بدګمانه کېږي- د دې بهترین حل دا وي چې تاسو کور والا پهٔ مینه محبت سره، پهٔ حِکمت عملۍ سره پوهه کړئ، که پوهه شي نو ټیک، ګني د هغوئي دا کارونه پهٔ زړهٔ کښې بد وګڼئ او پهٔ عارضي توګه پرې خاموشي اِختیار کړئ، د محلې والؤ له، خپلو دوستانو خپلوانو له د نېکۍ دعوت ورکوئ او پهٔ کور کښې صرف خپل ښهٔ کردار ښایئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِیم! هٔغه وخت به هم راشي چې ستاسو کور والا به پخپله پهٔ دې خبره باندې پوهه شي ❁داسې دې مونږ پهٔ خپلو کاروباري معاملو کښې وګورو ❁ د کور پهٔ معاملو غور اوکړو ❁ پهٔ امروزه ژوند باندې غور اوکړو، تاسو ته به پهٔ هر ځائے کښې دا مېلاؤېږي، خلق پهٔ جنګ جګړو کښې اخته وي ❁ که هغه داسې اوکړل نو زهٔ به

داسې کووم ❀ فلانکي زۀ نۀ یم بللے، زۀ به هم هغه نۀ رابلم ❀ پۀ خپل دُکان کښې ناست وي د خپل دکان د خیال ساتلو پۀ ځائے پۀ نورو باندې بدګمانۍ کوي، نن ګاهک رانغلو ځکه چې د فلانکي نظر ډېر خراب دے، فلانکے تعویذونه کوي ❀ فلانکي راباندې جادو کړے دے، ځکه د کور سکون ختم شوے دے۔ وروره! جنګ جګړې پرېږدئ! یقین اوکړئ چې څومره وخت مونږ د نورو پۀ بے عزته کولو کښې تېروو، د هغې نیم وخت که چرې مونږ پۀ خپل ځان سمولو باندې تېر کړو نو مونږ ترقي کولے شو۔
خو حالات داسې دي چې مونږ خپل ټول وخت د نورو پۀ بے عزته کولو کښې تېروو، بیا چې پۀ اصلي مقصد کښې ناکامه شو نو بد فالیانې شروع کړو ❀ توره پیشو مې پۀ مخه تېره شوه، ځکه زۀ کامیاب نۀ شوم ❀ د فلانکي سپېرۀ مخ مې لیدلے وو، ځکه ناکامه شوم۔
**اللّٰه** پاک دې زمونږ پۀ حال باندې رحم اوکړي۔ اِختلافات کنټرولول یو پوره مضمون دے، دا مونږ له زده کول پکار دي، اِختلافات بس زیاتول، بس هم هر وخت پۀ اختلافاتو کښې اوسېدل کافي نۀ وي، دا ترقي ودروي، ځکه اِختلافات پۀ حِکمت عملۍ او تدبر سره سمبالول او د خپل مقصد طرف ته وړاندې تلل پکار دي۔ **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د دې توفیق راعطا کړي۔ اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

## (2): ښه تدبیر اِختیار کړئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د صُلح **حُدَیبِیَه** نه مونږ ته دوېم سبق د ژدکړې د پاره دا مېلاوېږي چې مونږ له پۀ کارونو کښې تدبیر اِختیارول پکار دي۔ د تدبیر معنیٰ ده: اَلنَّظْرُفِی عَاقِبَۃِ الْاَمْرِ یعنې د کار کولو نه مخکښې د کار پۀ نتیجه باندې سوچ کول۔[1]
وګورئ چې د صُلح حُدیبِیَه پۀ موقع باندې صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم سخت شرطونه

---

1…لمعات التنقیح، کتاب الآداب، باب الحذر والتانی فی الامور، جلد: 8، صفحه: 309، زیرِ حدیث: 5057۔

لیدل خو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې صُلح پهٔ نتیجه کښې مېلاؤېدونکې فتحِ مبین (روښانه فتح) ته نظر فرمائیلو- د دې صُلح پهٔ نتیجه کښې یې د غیر مسلمو د رانزدې کېدو، پهٔ اِسلام د پوهېدو او د اِسلام قبلول لیدل- بیا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې تدبیر هٰغه نتیجه راووتله چې دُنیا ورته ګوته پهٔ خُله پاتې شوه-

## د اَعمالو د بدلې نه مهٔ غافله کیږئ!

معلومه شوه چې مونږ له هم تدبیر اِختیارول پکار دي- پهٔ ښځښني سره عرض کووم، مونږه ښه تدبیر نهٔ کوو، بیا چې کله ناکامه شو نو د خپلو ناکامو اِلزام پهٔ تقدیر باندې اچوو- ❀ بس جي قِسمت مې داسې وو ❀ هم پهٔ قِسمت کښې لیکلے شوي وو ❀ اِنسان څهٔ کولے شي، د اِنسان پهٔ وَس کښې څهٔ دي، څهٔ چې الله پاک لیکلي دي نو هم هغه کیږي-

زهٔ د دې خبرې نه اِنکار نشم کولے، نهٔ به یې اوکړم، اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږ مسلمانان یو، زمونږه رښتوني، پخه عقیده ده:

وَ الْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَ شَرِّهٖ مِنَ اللهِ تَعَالٰى

**ترجمه:** هر ښهٔ او بد تقدیر د الله پاک له طرفه دے-

خو مونږ ته د مُکافاتِ عمل (د اعمالو د نتیجې) نه هم غافله کېدل نهٔ دي پکار- بے شکه زمونږه اعمال نتیجې ورکوي- تاسو قرآنِ کریم ولولئ! الله پاک اِرشاد فرمائي:

وَمَا ظَلَمَهُمُ اللهُ وَلٰكِنْ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ (پارہ:4، سورۂ آلِ عمران:117)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او الله پهٔ هغوئي ظُلم نهٔ دے کړے بلکې هغوئي پخپله پهٔ خپلو ځانونو ظُلم کوي-

یعني څوک چې د ناکامۍ او تباهۍ ښکار شول، پهٔ هغوئي باندې الله پاک هیڅ ظُلم اونکړو، رَبِّ رحمان او رحیم خو د چا محنت نهٔ ضائع کوي، پهٔ اصل کښې خلقو پخپله پهٔ خپلو ځانونو باندې ظُلمونه اوکړل، پخپله یې ګناهونه وکړل، پخپله یې د کامیابۍ شرطونه

پوره نهٔ کړل، ځکه یې نتیجه ناکامي او تباهي راووتله-

پهٔ یو ځائے کښې **اللّٰه** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ ۚ (پاره:1، سورهٔ بقره:134) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او ستاسو اعمال ستاسو د پاره دي- |

پهٔ یو بل ځائے کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ۗ (پاره:3، سورهٔ بقره:286) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: کوم نفس چې څهٔ ښه وکړل هغه هُم د هغهٔ د پاره دي او کوم نفس چې بد وکړل د هغې وبال هُم هغه دے- |

پهٔ یو بل ځائے کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿۵۲﴾ (پاره:11، سورهٔ یونس:52) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تاسو ته هُم ستاسو د کړلو اَعمالو بدله درکولے کیږي- |

پهٔ سُورهٔ شُوریٰ کښې خو **اللّٰه** پاک بالکل صفا فرمائیلي دي:

| | |
|---|---|
| وَمَاۤ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِیْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَیْدِیْكُمْ (پاره:25، سورهٔ شوریٰ:30) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او تاسو ته چې کوم مصیبت ورسیږدو هغه ستاسو د لاسو د کړو اَعمالو پهٔ وجه دے- |

پته اولګیده چې نتیجه زمونږ د اعمالو راووځي، مونږ ته چې کوم مصیبت رارسي، که هغه د ناکامۍ پهٔ شکل کښې وي، د تنګدستۍ پهٔ شکل کښې وي، د پریشانۍ پهٔ شکل کښې وي، د پیښو پهٔ شکل کښې وي، زیاتره دا مصیبتونه مونږ ته زمونږ د اَعمالو پهٔ نتیجه کښې میلاؤیږي- ځکه د هرې ناکامۍ اِلزام پهٔ تقدیر باندې د اچولو پهٔ ځائے ښه دا ده چې مونږ پهٔ خپل تدبیر باندې غور اوکړو- که پهٔ یو کار کښې مونږ ناکامه شوي یو نو ضرور به مونږ

چرته غلطي کړې وي، د دې غلطۍ د پېژندلو عادت جوړول پکار دي-

## بد فالي ګناه ده

اوس خو خیر حالات ډېر خراب شوي دي، خلق په تقدیر باندې هم اِلزام کم لګوي، د خپلې ناکامۍ **ټول وبال په توره پیشو** وراچوي ❁ توره پیشو مې په مخه باندې تېره شوې وه ❁ **د کور د چلولو طریقه** ورله ښځې نه ورځي، وادهٔ یې ناکامه شو، جنګ جګړې او طلاق ته خبره ورسېدله او اِلزام د صفرې په میاشت باندې چې **د صفرې میاشت سپېرهٔ ده**، ځکه وادهٔ ناکامه شو ❁ ګاډے یې ښځه صحیح نهٔ چلولو، د ګاډي چلولو په وخت یې په ټیلفون باندې خبرې کولې، اوور سپیډ (یعني ډېر تېز) روان وو خو خُدائے دې نهٔ کړي که ایکسیډنټ وشي نو اِلزام د ایمبولېنس په اواز باندې اچوي **چې د کور نه په راوتو مې د ایمبولېنس اواز اورېدلے وو**، ځکه دا مسئله راپېښه شوه ❁ په سفر باندې د تللو آداب وي، دعاګانې لوستل وي، صدقه او خیرات وغیره کول پکار دي، په سفر باندې د تللو نه مخکښې د سفر نمونځ کول سُنَّت دي، دا ټول کارونه مونږ نهٔ کوو خو چې کله په لاره کښې څهٔ نقصان راورسي نو په ستورو باندې اِلزام لګوو چې **نن مو ستورے په ګردش کښې وو** ❁ دغه شان مو غصه ښځه نهٔ قابو کیږي، ژبه چې مو روانه شي نو بے مُهارا چلیږي، بیا چې کله په نتیجه کښې یې جنګ وشي نو اِلزام په قېنچۍ باندې یا د کور په لوښو باندې راځي چې **د قېنچۍ په چلولو سره جګړه کیږي**- داسې نور ډېر مثالونه دي-

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا صرف بد فالي ده- تاسو لږ غور خو اوکړئ! آیا مَعَاذَاللّٰه! ❁ **اللّٰه** پاک زمونږه معامله یوې پیشو ته سپارلې ده؟ ❁ د ایمبولېنس اواز ته یې سپارلې ده؟ ❁ زمونږه ټول کور قېنچۍ ته وسپارلے شو چې په دې کور کښې به جګړې کیږي که نهٔ کیږي، د دې فېصله به د اوسپنې بے ساه قېنچې کوي؟ لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه- **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ اَلْحَمْدُلِلّٰه! مسلمانان یو، زمونږه رښتونې پخه عقیده ده چې د دې کائنات

هره پانړه د **اللّٰه** پاک د حُکم محتاجه ده- پهٔ قرآنِ حکیم کښې دي:

| | |
|---|---|
| اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِؕ (پاره:7، سورۀ انعام:57) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: حُکم صرف د **اللّٰه** دے- |

پهٔ یو ځائے کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَ مِنْۢ بَعْدُؕ (پاره:21، سورۀ روم:4) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: مخکښې او وروستو حُکم صرف د **اللّٰه** دے- |

معلومه شوه چې حُکم د **اللّٰه** پاک چلیږي، د قېنچی نهٔ چلیږي، د پیشو نهٔ چلیږي، د صفر شریف د مقدسې میاشتې نهٔ چلیږي، د ایمبولېنس د اواز نهٔ چلیږي، حُکم د **اللّٰه** پاک چلیږي او د **اللّٰه** پاک حُکم پهٔ اکثره توګه زمونږ د اعمالو سره تړلے وي، ځنګه چې مونږ کارونه کوو، نتیجه یې هم هُغسې راووځي-

ځکه خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د خپلې ناکامۍ اِلزام پهٔ تقدیر باندې لګول، هیڅې بے هیڅه بد فالي نیول، د دې خبرو نه راوتل پکار دي او مونږ له پهٔ خپل تدبیر باندې غور کول پکار دي- پهٔ هر کار کښې ښه تدبیر اوکړئ! بیا معامله **اللّٰه** پاک ته وسپارئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! کامیابي به مو نصیب کیږي-

## د کامیابۍ دوه شرطونه

**اللّٰه** پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ شَاوِرْهُمْ فِی الْاَمْرِۚ فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِؕ (پاره:4، سورۀ آلِ عمران:159) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او پهٔ کارونو کښې د دوئي نه مشوره اخلئ بیا چې کله د کومې خبرې پخه اِراده اوکړې نو پهٔ **اللّٰه** تَوَکُّل اوکړه- |

دا پهٔ هر جائز کار کښې د کامیابۍ موندلو نصاب دے، دوه کارونه مونږ له کول دي: (1): مشوره: دا د ښه تدبیر حصه ده (2): پهٔ اللّٰه پاک باندې یقین کول-

ګویا مونږ ته وئیلے کیږي چې د هر یو کار د پاره پهٔ ښه انداز کښې تدبیر اوکړئ! دې د

پاره د نورو سره مشورې هم اوکړئ، کله چې دا اوکړئ نو په **الله** پاک باندې باور اوکړئ او په هٔغه کار شروع اوکړئ! رَبِّ کريم به تاسو ته کاميابي عطا کړي-

## کله چې پوهېږې نهٔ چې څهٔ اوکړم نو---

يو ځل يو صحابي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دربار رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو او عرض يې اوکړو: (يَا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زهٔ چې کله په يوه معامله کښې حيران شم، نهٔ پوهېږم چې څهٔ اوکړم نو په داسې حالت کښې ما له څهٔ کول پکار دي) نصيحت راته اوکړئ! رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: خُذِ الْاَمْرَ بِالتَّدْبِيْرِ څهٔ چې کول غواړې، په هغې کښې تدبير اِختيار کړه! [1]

## د ټولو نه زيات عقلمند

په يو حديثِ پاک کښې دي: رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: يَا اَبَا ذَرٍّ! لَا عَقْلَ كَالتَّدْبِيْرِ د تدبير نه زيات بل هيڅ يو عقل نشته- [2]

يعنې د کار کولو نه مخکښې د هغې په نتيجه باندې سوچ کول، دا د ټولو نه کامِل عقل دے، څوک چې داسې کوي، هغه ته کامِل عقل مند وئيلے شي- [3]

تدبیر کے دستِ رنگیں سے تقدیر درخشاں ہوتی ہے
قدرت بھی مدد فرماتی ہے جب کوششِ انساں ہوتی ہے

او چا شاعِر وئيلي دي:

تم ستاروں کے بھروسے پہ نہ بیٹھے رہنا
اپنی تدبیر سے تقدیر بناتے جاؤ!

---

1... مشکاۃ المصابیح، کتاب الآداب، باب الحذر والتانی فی الامور، جلد: 2، صفحه: 226، حدیث: 5057۔

2... مشکاۃ المصابیح، کتاب الآداب، باب الحذر والتانی فی الامور، جلد: 2، صفحه: 227، حدیث: 5066۔

3... لمعات التنقیح، کتاب الآداب، باب الحذر والتانی فی الامور، جلد: 8، صفحه: 317، تحت الحدیث: 5066۔

صَــلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د کرشمو اِنتظار مهٔ کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته یو سوچ دا هم دے چې خلق د کرشمو او کراماتو انتظار کوي ❀ لکه څنګه چې ما دُعا کړې ده نو بس اوس به چت برسېره شي او پهٔ ما باندې به د نعمتونو باران شروع شي ❀ د ځینو خلقو ذِهن وي چې زهٔ نـمونځ کووم، لهٰذا زما د دُکان نه غلا نشي کېدے ❀ زهٔ تِلاوت کووم، لهٰذا ما ته به څهٔ بیماري نهٔ لګي ❀ ما دُعاګانې لوستلې دي،لهٰذا اوس به ما ته څهٔ مصیبت نهٔ پېښېږي-

یو خو دا ده چې د اِنسان پهٔ **الله** پاک باندې پوخ یقین وي، دا خو ډېره ښه خبره ده خو مونږ د نېکۍ کولو نه پس هم د تدبیر محتاجه یو، اوس اِنسان پهٔ موټر سائیکل باندې کښېني او د سفر دُعا خو ولولي خو پهٔ لاره کښې ون ویلنګ شروع کړي، بیا وائي چې ما دُعا لوستلې ده، لهٰذا هیڅ به نهٔ کیږي- دا خو تدبیر معطل کوونکې خبره ده-

## زهٔ د الله پاک اِمتحان نهٔ اخلم

یو ځل د **الله** پاک د نبي حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام نه چا پوښتنه اوکړه: آیا تاسو پهٔ **الله** پاک باندې تَوَکُّل (یعني یقین) لرئ؟ وه یـې فرمائیل: آؤ! بالکل یـې لرم- وه یـې وئیل: بیا دې مخامخ غر ته وخېژئ او ځان ترې پخپله لاندې راوغورځوئ! ګورو چې ستاسو رَبّ تاسو بچ کوي که نهٔ بچ کوي- حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام ډېر ښکلے جواب ورکړو، وه یـې فرمائیل: زهٔ پهٔ **الله** پاک باندې یقین ضرور لرم خو د هغهٔ اِمتحان نهٔ اخلم-(1)

وګورئ! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څومره د پوهې خبره ده، مونږ له هم غور کول پکار دي چې خُدائے دې نهٔ کړي مونږ هم چرته د **الله** پاک د اِمتحان اخستو جرأت خو نهٔ کوو،

---

1...فیض القدیر، جلد:3، صفحه:392، زیرِ حدیث:3445۔

مثلاً: ❁ نـمونځ له روان يو، دُکان مو پرانستے پرېښودو چې ګورم چې د نـمونځ پهٔ برکت مې دُکان محفوظ پاتې کيږي که نهٔ پاتې کيږي؟ ❁ ګاډے مې لاک نهٔ کړو او د ياجَلِيلُ وِرد مې اوکړو او لاړم، ګورم چې د الله پاک پهٔ نوم کښې څومره طاقت دے---؟ دا ډېره سخته خبره ده- مونږ له د داسې تدبير پرېښودو سره توکل نهٔ دې کول پکار- بلکې توکل خو دا دے چې اِنسان ذريعې اِختيار کړي، پهٔ خپل وَس کښې چې يـې څهٔ دي، هغه اوکړي او بيا نتيجه الله پاک ته وسپاري-

## ګيدړه جوړه شوې يـې، ازمرے ولې جوړ نهٔ شوې---؟

شيخ سعدي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يوه واقعه ليکلې ده: يو ګَس وو، هغه يو ځل د رزق پهٔ لټون کښې ووتو، پهٔ لاره روان وو چې پهٔ يو ځائے کښې د ځنګل پهٔ خوا تېرېدلو، څهٔ ګوري چې يوه ګيدړه ده، پهٔ ښپو باندې شله ده- هُغه ګَس چې وليدله نو ډېر حېران شو، سوچ يـې اوکړو چې دا خو پخپله ښکار کولے نشي، بيا به څهٔ خوري او څښي؟ نو دې کتلو د پاره هغه هلته پټ کېناستو- لږ ساعت تېر شوے وو چې يو ازمرے هلته راغلو، د هغهٔ پهٔ خُله کښې د ښکار کړے شوې ځناور غوښه وه، ازمري غوښه راوړه او د ګيدړې مخې ته يـې کېښودله، ګيدړې پهٔ خوراک شروع اوکړه، کله چې هغه مړه شوه نو باقي پاتې ښکار ازمري اوچت کړو او يو طرف ته کېناستو او پخپله يـې خوړل شروع کړل-

دا يـې چې وليدل نو پهٔ هُغه اِنسان کښې جذبه راغله، سوچ يـې اوکړو چې کوم الله پاک دې ړندې او شلې ګيدړې ته رزق عطا کولے شي نو يقيناً چې هغه به يـې ما ته هم راعطا کړي- پهٔ دې سوچ هُغه ګَس پهٔ يو جومات کښې کېناستو، بس شپه او ورځ يـې الله الله کولو، نـمونځونه يـې کول- دعاګانې يـې کولې چې اے هُغه شلې ګيدړې ته رزق ورکوونکيه کريم مالکه! ما ته هم رزق راعطا کړې-

يوه ورځ تېره شوه، رزق رانغلو، دوېمه ورځ تېره شوه، رزق رانغلو، درېمه ورځ تېره شوه، بيا خو د هُغه ګَس د لوږې پهٔ وجه حالت خراب شو، اخر يـې پهٔ سلګو او پهٔ ژړا ژړا د الله

پاک پهٔ دربار کښې دُعا اوکړه- نو غيبي اواز راغلو: اے اِنسانه! تا ګيدړې ته وکتل، ازمري ته دې ولې وه نهٔ کتل، تهٔ د ګيدړې پهٔ شان پهٔ ګوټ کښې خو کېناستې، دا دې ولې وه نهٔ کړل چې د ازمري پهٔ شان دې پخپله هم خوړلے وے او پهٔ نورو دې هم خوړلے وے- تا له لاسونه، ښپې، سترګې، غوږونه هر څهٔ درکړے شو، لاړ شه! محنت اوکړه، وګټه، پخپله هم وخوره او پهٔ نورو هم وخوره-[1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې واقعه کښې څومره د زدکړې سبق دے، چې مونږ تدبير پرېږدو او ووايو چې " زما د پاره به قدرت خپل قانونه بدل کړي او ما ته به پهٔ ناسته مېلاؤېدل شروع شي " دا غلط فهمي ده- دعاګانې ضرور کوئ، نـمونځونه ضرور کوئ، د **الله** پاک نوم ضرور اخلئ، تِلاوت هم لازمي کوئ خو د دې نتيجه دا نهٔ ده چې زمونږه ټول کارونه به د کراماتو پهٔ توګه هم پخپله کيږي بلکې د نېکۍ برکت دا وي چې مونږ ته **د صحيح تدبير لاره مېلاؤ شي**-

## د درېو کسانو دُعا نهٔ قبلېږي

**پهٔ حديثِ پاک کښې دي**، رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم فرمائيلي دي: د درېو کسانو دُعا نهٔ قبلېږي:

(1): څوک چې پهٔ شاړ مکان کښې قيام کوي-

وضاحت: مثلاً پهٔ ورانو کنډراتو کښې د شپې تېرولو د پاره ايسار شو، او دعاګانې کوي چې يا **الله** پاکه! زما حفاظت اوکړې- نو د حديثِ پاک مطابق د داسې کَس دا دُعا نهٔ قبلېږي-

(2): دويم هغه مسافر کوم چې پهٔ لاره کښې قيام کوي-

وضاحت: پخوا به خلقو پيدل سفر کولو، لارې به کچه وې نو پهٔ لاره کښې ايسارېدل نا

---

[1]...بوستانِ سعدی مع شرح بہارِ بوستان، صفحہ:157155 ملخصاً۔

مناسبه او خطرناک وي، ځکه وفرمائیلے شو: څوک چې پهٔ لاره کښې ایسار شي او خپل ځان خطرو ته پیش کړي او دُعاګانې کوي چې یا **اللّٰه** پاکه! ما د خطرو نه بچ کړې- فرمائي: د داسې کَس دُعا هم نهٔ قبلیږي-

(3): **د** هُغه کس کوم چې خپل څناور بخپله پرانځي او بیا دُعا کوي: اے **اللّٰه** پاکه! ادا ودروې- د دهٔ دُعا هم نهٔ قبلیږي- ځکه چې **خُوَیْشْتَنْ کَرْدَه رَاعِلاجِ نَیْست** یعنې د خپل لاسو د کړو هیڅ عِلاج نشته-

## د چا دُعاګانې چې نهٔ قبلیږي

اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د ذِکر کړے شوي حدیثِ پاک د لیکلو نه پس فرمائي: ❁ دغه شان چې کوم ګَس پهٔ کور کښې وغزیږي او کښیني او وائي: یا **اللّٰه** پاکه ما له رزق راکړې ❁ څوک چې خپل مال پهٔ فضول خرچو کښې والوځوي، بیا وائي: مالکه! ما ته نور راعطا کړې ❁ څوک چې د ظالمانو پهٔ مینځ کښې اوسیږي او وائي: مولیٰ! ما د دوئي د ظُلم نه محفوظ کړې ❁ دغه شان چې څوک د شپې پهٔ تیارهٔ کښې یواځې ووځي او غواړي چې د غلا شوکې نه محفوظ شي ❁ څوک چې د شپې دروازه پرانستے پریږدي ❁ پهٔ لوښي بِسمِ اللّٰہ وه نهٔ لولي او پټ یې نهٔ کړي او غواړي چې لوښے د بیمارو نه محفوظ شي ❁ څوک چې بغیر د لاس وینځلو نه اودهٔ شي ولې چې د هغهٔ لاسونه شیطان څټي او د برکې پهٔ مرض کښې د اخته کیدو اندیښنه ده ❁ بغیر د دیوالونو والا چت باندې خملي او غواړي چې زهٔ وه نهٔ غورځیږم- نو د دوئي ټولو پهٔ دې معاملو کښې دُعاګانې نهٔ قبلولے کیږي، ځکه چې هغوئي اسباب او تدبیر پریښودو او دُعاګانې کوي-

ځکه مونږ له پکار دي چې تَل ښه تدبیر اوکړو، ښه محنت اوکړو، د دې نه پس نتیجه **اللّٰه** پاک ته وسپارو-

کیونکر نہ میرے کام بنیں غیب سے حسؔن

بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کارساز کا

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار: نيک اَعمَال

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د نيک جوړېدو، د ګناهونو نه د بچ کېدو او پهٔ نيکو باندې د استقامت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک **دعوتِ اِسلامي** دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ او د ذيلي حلقے پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم ښه ډېره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دنيا او اخرت بے شمېره خېرونه به درنصيب شي۔ پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: د **نيک اعمال** د رسالې نه روزانه جائزه اخستل۔

❀ د ځان د اصلاح او د شيطان نه د بچ کېدو بهترينه طريقه هم دا ده چې مونږ د خپلو عادتونو، خپل کردار او د خپلو اعمالو جائزه اخلو۔ پهٔ اوسني وخت کښې اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خپل ځان د جائزې اخستو اسانه طريقه ښودلې ده: **رساله نيک اعمال** ❀ د زيات عمر اسلامي ورونړو د پاره پهٔ **نيک اعمال رساله** کښې 72 سوالونه او جوابونه ليکلے شوي دي ❀ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي ❀ هره ورځ د سوال لوستلو سره خپله جائزه اخستل دي او خانې ډکول دي ❀ د ښه اِسلامي ژوند تېرولو بهترينه نسخه ده ❀ د دې پهٔ ذريعه پته نه لګي چې د څومره خلقو اصلاح شوې ده۔

**تاسو هم دا رساله واخلئ!** د نيک اعمال مطابق هره ورځ خپله جائزه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډېره فائده به در نصيب شي ❀ اخلاق به مو ښه شي ❀ کردار به مو ښه شي ❀ عادتونه به مو ښه شي ❀ پهٔ نيکو باندې به مو استقامت نصيب شي ❀ د ګناهونو نه به مو نفرت

شي ❀ زړۀ به مو روښانه شي ❀ د **الله** پاک محبت به مو نصيب شي ❀ عشق رسول به زيات شي ❀ روحانيت به مېلاؤ شي او ❀ د اخرت فکر به مو نصيب شي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د روزانه جائزې اخستو اِنعام

يو اِسلامي ورور وائي چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما د نېک اعمال سره محبت دے او د دې پۀ ذريعه روزانه خپله جائزه اخستل زما معمول دے- يو ځل زۀ د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافله کښې د عاشقانِ رسول سره د بلوچستان صوبې (پاکستان) پۀ سفر ووم- هغه وخت پۀ ما ګنهګار باندې کرم وشو- داسې وشول چې زۀ کله د شپې اوده شوم نو بخت مې رابيدار شو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوب کښې تشريف راوړلو، بيا لا پۀ جلوو کښې ورک ووم چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو څوک چې پۀ مَدَني قافله کښې روزانه د نېک اعمال رسالې نه خپله جائزه اخلي زۀ بۀ هغوئي د ځان سره جنَّت ته بوځم-

شکریہ کیوں کر ادا ہو آپ کا یا مصطفیٰ | کہ پڑوسی خُلد میں اپنا بنایا شکریہ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دارُ الاِفتّاء اهلسُنَّت ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د عِلمِ دين پۀ فيضان عام کولو کښې مصروف دے، د دعوت اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت)- پۀ دې ايپلي کيشن کښې به تاسو ته مېلاؤېږي: پۀ ګڼ شمېر د مذهبي او معاشرتي پوښتنو ليکلې فتوې ❀ د عقيدو پۀ باره کښې احکام ❀ د قرآن او حديث پۀ باره کښې احکام ❀ د اوداسۀ،

غسل او د ناپاکۍ احکام ❀ د نـمونځ په باره کښې مسئلې ❀ د مړي په باره کښې مسئلې ❀ د دعوتِ اِسلامي د مفتیانو صاحبانو اهم تربیتي او معلوماتي ویډیوکلپس او بیانونه ❀ په معاشرتي او مذهبي اړخونو باندې د لار ښودنې مختلف ارټیکلز او کتابونه ❀ د مفتیانو صاحبانو په مختلفو علمي، تربیتي او شرعي معلوماتو مشتملې سلسلې ❀ تجارت کورس، د فرض علومو کورس ❀ او ډېر څهٔ- دا ایپلي کېشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ! ټخپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

❀ د هر خالي په ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په **مَدَني چینل لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي خالي په ورځ به هم په مَدَني چېنل د ماسخوتن د نـمونځ نه پس 9:45 بجې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، په کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې په دې مَدَني مذاکره کښې ټخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❀ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت هره هفته د یوې **دیني رسالې** لوستلو ترغیب ورکوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د ژبې د حفاظت اهمیت (د خبرو کولو آداب قسط: 5)** اعلان کولے شي- دا رساله ټخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئ دې د **اللّٰه** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شېئر کړي! ❀ مکـتبة الـمدینه یو اهم کتاب په نوم د:**بدشگوني** چاپ کړے دے- په دې کتاب کښې به تاسو د بد فالۍ تعریف، د دې په باره کښې حدیثونه،

د بد فالۍ قِسمونه، مثالونه او په دې باره کښې ډېر دِيني معلومات لوستلے شئ- دا کتاب د مکـتبة الـمدینه د يوې څانګې نه په **75 روپۍ** په بيعه حاصل کړئ-

## د حج فرضيت

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په ټول عمر کښې يو ځل حج فرض دے او د دې د فرضيت انکار کوونکے کافر دے[1] او د قدرت لرلو باوجود حج نۀ کوونکے ګنهګار دے[2] - **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَیْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَیْهِ سَبِیْلًاؕ وَ مَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ عَنِ الْعٰلَمِیْنَ(۹۷) (پارہ:4، سورۂ آل عمران:97) | **مفهوم ترجمۀ کنزُالعرفان** او د **الله** د پاره په خلقو باندې د دې کور حج کول فرض دي څوک چې دې ته د رسيدلو طاقت لري او څوک چې انکار وکړي نو **الله** د ټول جهان نه بې پروا دے. |

## د حج کولو ثوابونه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** ❁ حج کول يو افضل عمل دے[3] ❁ حج محتاجي او ګناهونه داسې لرې کوي، لکه څنګه چې بټۍ د اوسپنې، سپينو زرو او سرو زرو خيرے لرې کوي[4] ❁ حج کوونکے به د خپل کور والؤ نه د څلور سوه (400) کسانو شفاعت کوي[5]

---

[1] ...فتاویٰ ہندیہ، کتاب المناسک، باب فی تفسیر الحج و فرضیته، جلد:1، صفحه:239۔

[2] ...درمختار، کتاب الحج، صفحه:155۔

[3] ...بخاری، کتاب لاحج، باب فضل الحج المبرور، صفحه:423، حدیث:1519۔

[4] ...ترمذی، کتاب الحج، باب ماجاء فی ثواب...الخ، صفحه:222، حدیث:810 مختصراً۔

[5] ...مسند بزار، جلد:8، صفحه:169، حدیث:3196۔

❁ مقبول حج د دنیا او په دې کښې چې څه دي د دې ټولو نه بهتر دے او د دې بدله د جنت نه سِوا بل هیڅ نۀ ده[1]۔

## د فرض حج نۀ کولو نقصانات

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ❁ د حج فرض کیدو باوجود په قصد سره حج نۀ کول دوزخ ته بوتلونکے کار دے ❁ څوک چې په حج قادر وي او حج ونۀ کړي هغه سخت مجرم او ګنهګار دے[2] ❁ چا ته چې د حج کولو نه نۀ ظاهري حاجت رکاوټ وي، نۀ ظالم بادشاه او نۀ کوم داسې مرض چې هغه یـې اِیسار کړي او بیا هُم د حج کولو نه بغیرمړ شو نو که یهودي مري او که نصراني[3] ❁ د کوم بنده بدن چې روغ وي او هغه په مالي لحاظ خوشحاله وي او هغه د 5 کالو پورې حج ونۀ کړي هغه ضرور محروم دے[4]۔

## د شُعبۂ حج و عمره اعلان

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! کوم عاشقانِ رسول چې د ګورنمنټ اسکیم حج پالیسي 2027 پاکستان زیر اهتمام حج له د تلو اراده لري او د دعوتِ اسلامي د شُعبۂ حج و عمره په حج ګروپونو کښې شاملیدو سره دا فریضه ادا کول غواړي، هغوئې دې د خپل رجسټریشن فارم ***PDF*** د شُعبۂِ حج و عمره په دې واټس ایپ نمبر 03705065072 باندې راولیږي۔

---

[1]…احیاءالعلوم، کتاب اسرار الحج، الفصل الاول فی فضائل الحج...الخ، جلد:1، صفحه:318۔

[2]…تفسیر نعیمی، پاره:4، سورۂ ال عمران، زیرِ آیت:97، جلد:4، صفحه:40۔

[3]…دارمی، کتاب المناسک، باب من مات...الخ، صفحه:535، حدیث:1791۔

[4]…ابن حبان، کتاب الحج، باب فی فضل الحج و العمرة، صفحه:1016، حدیث:3703۔

**نوټ:** په پاکستان کښې چرته هُم د حج او عمرې د تربيت د پاره هم دا اوس د مجلسِ حج او عمره پاکستان په آفيشل نمبرو رابطه وکړئ؛ نمبرې نوټ کړئ:

03700032626-03705065072

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!   صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي-[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د رانجو پورې کولو سُنَّت او آداب

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** په ټولو رانجو کښې بهترين رانجه اِثمد دي ځکه چې دا نظر روښانه کوي او بانه راټوکوي-[2]

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د کاڼي د رانجو په اِستعمالولو کښې هيڅ باک نشته او ❀ تور رانجه يا کَجَل د ښائست په نيت سره د نارينؤ د پاره پورې کول مکروه دي او که چرې ښائست مقصد نۀ وي نو بيا مکروه نۀ دي ❀ رانجه د شپې د اودۀ کېدو په وخت پورې کول سُنَّت عمل دے ❀ د رانجو پورې کولو د 3 نقل شوو طريقو خلاصه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم: **(1)**: کله په دواړو سترګو کښې 3، 3 سلايانې **(2)**: کله په

---

[1]...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

[2]...ابن ماجه، کتاب:الطب، باب:الکحل بالاثمد، صفحه:566، حديث:3497-

ښیِ سترګه کښې 3 سلایانې او په ګڅه سترګه کښې 2 **(3)**: نو کله په دواړو سترګو کښې 2، 2 او بیا په اخِره کښې یوه سلائي په رجړومه [د رانجو ګسوړه] کښې ووهئ او هغه په نمبر نمبر په دواړو سترګو کښې پورې کړئ د داسې کولو سره به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! په دریو واړو طریقو باندې عمل کیږي۔

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د تکریم چې څومره هم کارونه وو هغه ټول به زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ښي اړخ نه شروع کول، ځکه وړومبے په ښیِ سترګه کښې رانجه پورې کړئ او بیا په ګڅه کښې۔ [1]

| | |
|---|---|
| عجب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے! | جو نقشِ پا کا لگاؤں غبار آنکھوں میں (2) |

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او وه یې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا | چاہیئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| عِلم حاصِل کرو، جَہل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو (3) |

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

---

[1] … 550 سنتیں اور آداب، صفحه:38۔

[2] … سامانِ بخشش، صفحه:147۔

[3] … وسائلِ بخشش، صفحه:669 ملتقطًا۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِکْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمعې او زیارت پهٔ مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت کښې د مَدَني آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږ هم پهٔ شریکه دا دُرُود ووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې مَدَني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودریدلو نه مخکښې به د هغهٔ ګُناهونه مُعاف کړے شي.[2] راځئ چې مونږ هم پهٔ شریکه دا دُرُود ووائیو.

---

1... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحه: 151، خلاصةً۔

2... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحه: 65۔

### ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي په هغهٔ به د رَحمت اویا دروازې برسیره کړے شي. [1] راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شریکه ووائیو.

### ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي. [2] راځئ چې پهٔ شریکه یې ووائیو.

### ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم قُرب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مینځه کښینولو، پهٔ دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنہم حیران شو چې دا څوک اوچتې مرتبې والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم وفرمائیل: دے چې کله پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې یې لوَلي. [3] راځئ چې مونږ یې هُم پهٔ شریکه ووائیو.

---

1...قَوْلُ البَدِیْع، باب ثانی، صفحه:277۔

2...اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

3...قَوْلُ البَدِیْع، باب اَوَّل، صفحه:125۔

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شریف ولوَلي، د هغهٔ د پاره زما شفاعت واجب شي. (1) راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر [1000] ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما نه رِوايت دے چې مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيکئ ليکي.(2) راځئ چې مونږ يې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغهٔ چې شبِ قدر حاصل کړو- [3] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي **اللّٰه** پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، **اللّٰه** پاک دے، د اووهٔ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كِتَابُ الذِّكر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30-

2...مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305-

3...تاريخ ابنِ عساكر، 155/19، حديث:4415